ژمنتیا، رېښتینولي او ولس ته خدمت
زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي!

وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

هفته نامه ارمان شهدأ و معلولین افغانستان

څلرویشتمه ګڼه، پنج شنبه ، ۳ دلو ۱۳۹۸

# د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت خپلواکه کېدو په اړه د ولسي جرګې مشترک کمېسیون ته معلومات ورکړل شوه

نن سه شنبه د ( دلوی میاشتي لومړی) د شهیدانو او معلولینو په چارو کي د دولت وزیر ښاغلی لعل الدین اریوبی د ولسي جرګې له لوري ورېلل شوی و، تر څو د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د خپلواکه کېدو په اړه د ولسي جرګې د مشترک کمېسیون غړو ته معلومات وړاندې کړي. ښاغلي آریوبي په پیل کې د یاد کمېسیون غړو ته د وزارت د تیر یو کال فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه معلومات ورکړه او د وزارت د خپلواکه کېدو په اړه یې وویل: د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت راښکته کېدل د هیواد په اوسنیو شرایطو کې د یادو قشرونو ستونزو ته د رسیدګي او دوی ته د خدمتونو او په مختلفو برخو کې د فرصتونو برابرولو لپاره ضرور او یوه شدیده اړتیا ګڼل کیږي. اړینه ده، چې معلولیت لرونکي وګړي او د شهیدانو کورنی د یو واحد او خپلواک ادرس خاوندان وي. ښاغلي آریوبي زیاته کړه، چې معلولیت لرونکي وګړي او د شهیدانو کورنی په اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي، علمي، د امکاناتو او استثناوو په برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ دي او دوی ته د یوې خپلواکې اداري په نشتون کې یادو ستونزو ته رسیدګي او حل یې ستونزمنه چاره ده. د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت په خپلواکه کېدو سره دغه قشر ته د زده کړو، کار موندنې، اقتصادي پیاوړتیا، ټولنیز او سیاسي ادغام او ځان بسیاینې سربېره په نورو ډیرو برخو کې د پام وړ کارونه، چې د دوی د ژوند د بهه ولي په برخه کې مثبت نقش ولري، ترسره شي. ښاغلي آریوبي د دغه کمېسیون غړو ته د وزارت د خپلواکه کېدو د ګټو په اړه وویل، چې یاد قشر ته به د دوی د حقوقو په ورکړه کې روښانیا راښکته شي او دا چې دغه وزارت اوس یو مصرفي اداره ګڼل کیږي له دې وروسته به د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو د ځان بسیاینې، زده کړو، حرفوي زده کړو، ټولنیز ملاتړ، په ټولنه کې د بیا ګډون او استثناوو برابرولو لپاره لار هواره شي. ښاغلي آریوبي د کمېسیون غړو ته د وزارت د تیرو پلانونو او راتلونکو پلانونو په اړه هم معلومات وړاندې کړه او د وزارت د خپلواکه کېدو اړوند یې د ملت د استازو پوښتنو ته ځوابونه وویل. پرېکړه وشوه، چې د وزارت د خپلواکه کېدو موضوع په سبا د ولسي جرګې عمومي غونډې ته د رایې اخیستنې لپاره وړاندې شي. د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت رهبري هیله وښوده، چې د ملت استازي به د ټولنې د یو ستر قشر غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي.









شفافیت در پرداخت و دریافت معاشات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت ساده و عملی می‌گردد...۲



ځوان کهول کولی شي د هیواد ټولو ستونزو او ناخوالو ته د پای ټکی کیږدي...۳



برنامه آگاهی دهی در باره معلولیت و اضرار آن از سوی موسسه AOAD دایر گردید...۴



## ځوانان د هیواد د سترو ګټو په تامین کې رغنده رول لري

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي د حاجي امان الله خان د ځوانو په تالار کې، د پکتیا ولایت له یو شمیر نخبه ځوانانو سره وکتل. ښاغلي لعل الدین آریوبي ځوانانو ته د ولسي انسجام، د ځوانانو سیاسي مشارکت، د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو لپاره استثناوو او د حکومت پر سترو اقتصادي پروژو خبرې وکړې او د راتلونکو برنامو پر عمومیاتو یې مختصره رڼا واچوله. ښاغلي آریوبي د ځوانانو له راتګ څخه مننه وکړه او دوی یې د نظام د بهبود په چارو کې زیات کار او نه ستړي کیدونکو هڅو ته راوبلل. راغلو ځوانانو، ښاغلي آریوبي ته د هیواد د سترو ګټو د تامین په موخه د هر راز همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.



# شفافیت در پرداخت و دریافت معاشات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت ساده و عملی می‌گردد

محترم لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولیت در دفتر کاری شان با مسوول بخش عملیاتی عزیزی بانک دیدار نمودند .در این نشست روی ساده سازی سیستم معاشات افراد دارای معلولیت و شفافیت در سیستم درج معلومات ورثه شهدا و معلولین بحث و ابراز نظر صورت گرفت. محترم لعل الدین آریوبی تاکید بر این نمودند؛ تا در قسمت تثبیت هویت مشترکین سابقه و تازه تثبیت و درج آنان در سیستم بایومتریک شفافیت صورت گیرد تا از معلولین و ورثه شهدای خیالی جلوگیری به عمل آید .محترم آریوبی افزودند: با عملی شدن این پروسه طبق قرارداد که در زمینه با عزیزی بانک صورت گرفته است، سهولت های بیشتر در هنگام دریافت معاشات برای این قشر مساعد میشود، ایشان تاکید نمودن تا در کار این پروسه سرعت عمل صورت گیرد و همه ولایات هرچه زودتر از این بخش مستفید گردند .تا اکنون در ولایات تخار، لغمان، بدخشان و ننگرهار پروسه شفافیت در قسمت بایومتریک و سهولت در پرداخت معاشات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت صورت گرفته است که عنقریب در ولایات نیمروز، میدان وردک و پکتیا نیز عملی می‌گردد.





## د خاځیو خوانانو مدني ټولنې له مشرتابه سره د شهیدانو د وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزو ته د رسیدګي په اړه ناسته وشوه

د خاځیو خوانانو مدني ټولنې مشر ښاغلي وحیدالله ویاړ او ددې ټولنې مشرتابه پلاوي د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي سره وکتل ښاغلي وحیدالله ویاړ د پکتیا ولایت د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو وارثینو ستونزو ته په اشاري وویل، چې د پکتیا ولایت د ټولو شهیدانو کورنۍ او معلولین باید له دې وزارت څخه خپل حقوق او امتیازات په شفافه توګه ترلاسه کړي. نوموړي زیاته کړه، د خاځیو ځوانانو د مدني ټولنې ځوانان ژمن دي چې د وزارت ترڅنګ ددې قشر د ملاتړ په موخه هلې ځلې وکړي ښاغلي لعل الدین آریوبي د یادې ټولنې د غړو له راتلو مننه وکړه وویل، چې وزارت د شهیدانو د وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو د اقتصادي ملاتړ په موخه بیلابیل برنامې لري، د کارموندنې فرصتونه رامینځته شوي او ډیر ژر به ددوي په ژوند کې مثبت بدلون راشي



## برنامه آگاهی دهی در باره معلولیت و اضرار آن از سوی موسسه AOAD دایر گردید

وزارت دولت در امور شهدا و معلولین امروز میزبان برنامه آگاهی دهی در مورد طرز برخورد مردم در اجتماع با افراد دارای معلولیت بود که از سوی موسسه خیریه AOAD با اشتراک مقامات، کارمندان و افراد دارای معلولیت این وزارت برگزار شد در آغاز محترم عبدالخالق خاخی رییس موسسه مذکور در مورد دست آوردها و اهداف موسسه خیریه AOAD یاد آور شده افزودند: تاکنون این موسسه توانسته است در بخش های مختلف جامعه برای افراد دارای معلولیت برنامه های متنوع آگاهی دهی را برگزار نماید، تا باشد حق مشارکت اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی آنان در جامعه ترویج و عملی گردد سپس محترم دل آقا صوفی زاده معاون مالی و اداری وزارت دولت در امور شهدا و معلولین از همکاری های همیشگی این موسسه با این وزارت ابراز امتنان نموده علاوه نمود که ما همه باهم در قبال قشر دارای معلولیت جامعه خود مسوول هستیم تا در عرصه های مختلف به مشکلات آنان رسیدگی صورت گیرد و امروز بسا جای مسرت است که با همکاری یک موسسه خیریه و غیر دولتی برای مردم جامعه خصوصاً کارمندان این وزارت برنامه آگاهی را دایر می‌نماییم محفل با نمایش پارچه تمثیلی در رابطه به فقر و تنگدستی معلولین توسط ممثلان ریاست تیاتر ملی افغانستان اجرا گردید









## همراه با ۸ فامیل متضرر از جنگ در ولایت کندز مساعدت صورت گرفت

وزارت دولت در امور شهدا و معلولین به همکاری مالی موسسه (COMAC)برای ۸ فامیل متضرر از جنگ های اخیر در ولایت کندز، ۱.۲. بسته مواد خوراکی و غیر خوراکی را با حضور داشت آمر امور شهدا و معلولین این ولایت و نماینده موسسه (COMAC)؛ توزیع نمود این بسته ها شامل آرد، روغن، نخود، لوبیا، برنج، چای، بوره و غیره می‌باشد سلسله کمک های وزارت دولت در امور شهداء و معلولین، همه روزه در مرکز و ولایات جریان دارد.



## خوان کهول کولی شي د هیواد ټولو ستونزو او ناخوالو ته د پای ټکی کیږدي

د لویې پکتیا خوانانو ټولنو ګډې جرګې مشرتابه غړي د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي سره وکتل د جرګکې رئیس ښاغلي آرین پکتیار د لویې پکتیا ( پکتیا، پکتیکا، خوست او لوګر ) د خوانانو ټولنو ګډې جرګې لاسته راوړنو او راتلونکي پلانونو په اړه معلومات شریک کړه او تر څنګ یې ددې سیمې د ولسونو د ستونزو یادونه هم وکړه. نوموړي د ښاغلي وزیر لعل الدین آریوبي له لوري ولسونو ته د ښوونې او روزنې، ولسي انسجام او اقتصادي پیاوړتیا په برخه کې ترسره شوي کارونه اغېزناک او کټور وګڼل او هیله یې وښوده، چې د لویې پکتیا د ولسونو د سیاسي مشارکت او اقتصادي پیاوړتیا لپاره لا نور کټور ګامونه هم واخیستل شي ښاغلي آریوبي د لویې پکتیا د خوانانو ټولنو ګډې جرګې کارونه او لاسته راوړنې وستایلې او له ټولو خوانانو څخه یې مننه وکړه. ښاغلي آریوبي د جرګکې غړو ته د حکومت د پراختیایي پروګرامونو په اړه معلومات ورکړه وویل، زموږ موخه د ولسونو خدمت او اقتصادي پیاوړتیا ده .ښاغلي آریوبي د بشپړ همکارۍ او د لویې پکتیا ستونزو ته د رسیدګۍ داد ورکړ





## پنځو کورنیو سره د ۱۳ قلمه خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته وشوه

یاده مرسته چې ۸ کڅوړې وې او په هره کڅوړه کې ۱۳ ډوله خوراکي او غیر خوراکي توکي شامل وو نن د شهیدانو او معلولینو آمریت له خوا د جګړه ځپلو ملکي وګړو سره د مرستي پروګرام ( کمک) مؤسسي په همکارۍ د شهیدانو او معلولینو چارو آمریت او د کمک مؤسسي مسؤلینو لخوا یادو کورنیو ته وویشل شوي د یادونې وړ ده چې دا مرستي د ملکي وګړو له هغو کورنیو سره کیږي چې د جګړې له امله زیانمني شوې وي

